مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شېرمحمدامیني ستانکزی

۲۰۲۶/۱۱/۰۸

# اوبه ییزي ژرندې

افغان وګړي د غنمو د کرکیلې او اوړو د تولید لپاره له ډېر پخوا راهیسې بېلابېلې وسیلې کارولې دي. ډېرى کورنیو به د غنمو د کرلو پر مهال دوه جوړه غوایان لرل او ځمکه به یې پرې قولبه کوله، خو داسې خلک هم وو، چې له دغو امکاناتو بې برخې و او خپلې کروندې به یې په یُوم یا بیل چمتو کولې.
خلکو به، چې د غنمو او جوارو حاصلات واخیستل، نو د اوړو کولو لپاره به یې اوبه ییزو ژرندو ته ور وړل. په هغو سیمو کې، چې ژرندې نه وې، خلکو به له نورو ابزارو ګټه اخیسته او غنم به یې د ډېرې ستړیا په بدل کې میده کول. په یوه ورځ کې د یوې بوجې غنمو میده کول یو ډېر سخت کار و.
په هغو سیمو کې، چې ژرندې موجود وې، خلکو به د ژمي د راتلو په موسم کې خپل غنم پاکول او ژرندو ته به یې د میده کولو په پار لېږدول. د بار وړلو لپاره زیاتره وخت له خرو استفاده کېدله، ځکه هغه مهال نور ټرانسپورتي وسایل نه و. زیاترو خلکو به یوه ورځ مخکې ژرندې ته تلل، د ژرندهګړي څخه به یې نوبت اخیست او بیا به یې غنم پر خرو بار او ژرندې ته به روانېدل.
ژرندې معمولاً دوه یا درې ډُولونه لري او د ویالې پر سر جوړېدې. د ویالې په پورتنۍ برخه کې به د اوبو د راتولېدو ځای جوړېده او له هغه ځایه به اوبه په ناوې کې د ژرندې لاندې تېرېدې. د اوبو په زور به پورته تېره تاوېده او لاندې تېره به ټینګه خښه وه. د ډُول جوړښت د یوې نیم کنده په څېر و؛ درې دیوالونه یې لرله او مخه یې خلاصه وه. غنم به د ډُول پر سر توییدل، له یوه سورې لارې به د تېرې مینځ ته راښکته کېدل او د دواړو تیږو تر منځ به میده کېدل.
ژرندهګړي به د غنمو له مالک سره یو ځای غنم ډُول ته پورته کول. کله چې اوړه تیارېدل، هغه به په لاسي راشپېل راتول او بیا به یې په جوالونو کې ځای کړل.
ډېرى کورنیو به له یوه تر درې خروارو پورې غنم اوړه کول، چې په ډېر بار لرونکو کسانو به دا کار دوه یا درې ورځې وخت نیوه. د ژرندې پراخه احاطه کې به خلکو خپل نوبتي غنمو جوالونه کېښودل. د ژرندې په یوې برخه کې به یو نغرى بل و، چې خلکو به پرې د شپې ځانونه تودول او خپل خوراکونه به یې پخول. ډېرى خلک به له کوره په کټوې یا دیګ بخار کې د لاندې ښوروا له ځان سره راوړله.
ماشومان به په ډېره مینه له خپلو پلرونو سره ژرندې ته تلل. هغوی به د نغرې ترڅنګ ناست و، له سړې هوا خوندې و او د پخو شویو پټیرو به یې خوند اخیستل.
کله کله به دومره شدید یخ راتلو، چې د ژرندې اوبه به یخېدې او تیږه به نه تاوېده. خلکو به تر هغه وخته انتظار کاوه چې یخ وېلې شي او دې حالت ته به ویل کېده، چې ژرنده قیل شوې ده.
کله، چې به اوړه تیار شول، د کلي ځوانانو به د اشر (ګډ کار) په نوم خره ژرندې ته بوتلل، د اوړو جوالونه به یې پرې بار او په څو پیرو به یې اوړه تر کوره انتقالول.
اوس هم په ځینو لرو پرتو سیمو کې، چې اوبه لرې اوبه ییزې ژرندې شتون لري، خو ډېرى خلک نور په هغو کې اوړه نه کوي. یوازې لږ کسان، په ځانګړې ډول د جوارو اوړه کوونکي خپل جوار ژرندو ته وړي. نور خلک د عصري، برقي او ډیزلي ژرندو له امله په خپلو کورونو کې په ډېره اسانۍ سره اوړه میده کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ